**لوړو زده کړو وزارت**
**سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه ( ننگرهار )**
**محصلانو چارومعاونیت**
**کارموندنې او مشوره ورکوونې آمریت**

# محصلینو د ملاتړ پالیسي

# لیکلړ

**سرلیکونه** **مخونه**


مقدمه ........................................................................................3
محصلینو ملاتړ پالیسی جوړولو هدف........................................................3
لومړی ماده: محصلینو ته علمي برنامو جوړول او د هغوی ملاتړ ..............................3
دویمه ماده: محصلینو ته کاري فرصتونو پیدا کېدو برخه کې ملاتړ ..........................4
درېیمه ماده: محصلینو شخصیت او وقار ساتنې څخه ملاتړ ...................................4
څلورمه ماده: محصلینو ته عملي کار لپاره لابراتوارونو او مجهز روغتون .........................4
پنځمه ماده: محصلینو د ملاتړ په پار محصل نړیواله ورځ په شانداره مراسمو لمانځل.......................5
شپږمه ماده: محصلینو ته د ضرورت وړ قانوني اسنادو جوړول ................................5
اوومه ماده: بهرنیو محصلینو ته د ویزې لګولو په برخه کې اسانتیا په پار رسماً معرفي کول ...............5
اتمه ماده: څېړنو (ریسرچ) برخه کې محصلینو ملاتړ .........................................5
نهمه ماده: ازمونیو د پایلو څخه د عدم قناعت پر وخت د شکایت کولو ملاتړ .. **Error! Bookmark not defined.**
لسمه ماده: ساحوي کړنو برخه کې اسانتیاوې رامنځته کول ........... **Error! Bookmark not defined.**
یوولسمه ماده: بهرنیو غونډو کې ګډون حق ........................... **Error! Bookmark not defined.**

## مقدمه

محصلین چې د مؤسسې مهمه برخه گڼل کېږي، نو په همدې اساس ضرور ده په مؤسسه کې د محصلینو ملاتړ وشي، په لومړیو کې یې د حقه حقوق په ښه ډول تحقق ومومي، او په ښه شان ورکول شي، په همدې توگه په نورو مختلفو برخو کې یې هم ملاتړ وشي، مثلاً د ظرفیت لوړونې برخه کې یې کار وشي، د دوی وړتیاوو پېژندل ترڅو وکولی شي خپل مسلک ته لا پرمختگ ورکړي، د ښځینو ترسره کولو په برخه کې ورته اسانتیا برابرول او یاده برخه کې ملاتړ. چې خوشبختانه سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه په دغه برخه کې ژمن ده، چې د محصلینو د ملاتړ په پار یې پالیسي جوړه کړې، مفردات یې په لاندې ډول دي.

## محصلینو ملاتړ پالیسی جوړولو هدف

ددې پالیسي د جوړولو څخه موخه او هدف په مختلفو برخو کې محصلینو ملاتړ دی، ترڅو دوی وکولی شي له یوې خوا خپلې زده کړې په ښه ډول پر مخ یوسي، او له بلې خوا د دوی د نوښتونو، ابتکاراتو، ستاینه وشي، او په دغه برخه کې د لا نور ظرفیت لوړونې باندې کار او ملاتړ ترې وشي.

## لومړۍ ماده: محصلینو ته علمي برنامو جوړول او د هغوی ملاتړ

مؤسسه هڅه کوي، محصلینو ته علمي برنامې جوړې کړي، داسې برنامې چې په مټ یې محصلین کولی شي، خپل مسلک کې پرمختگ وکړي، په مسلکي ډول وروزل شي، دغه برنامې لنډ مهاله، منځمهاله او اوږدمهاله برنامې دي چې عبارت دي له:

- کمپیوټري زده کړو اړوند برنامې
- اداري مراسلاتو او مکاتباتو اړوند مدیریتي برنامې
- ECG لنډ مهاله برنامې
- انگلیسي ژبې لنډمهاله او اوږدمهاله برنامې

## دویمه ماده: محصلینو ته کاري فرصتونو پیدا کېدو برخه کې ملاتړ

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه د محصلانو معاونیت په تشکیل کې د کارموندنې او مشوره ورکوونې امریت لري، چې محصلینو سره د کاري فرصتونو په برخه کې همکاري کوي، برحاله او فارغ محصلینو ته کاري فرصتونو پیدا کېدو مهارتونو باندې کار کوي، هغه مهارتونه چې دندو تر لاسه کېدو لپاره مهم وي، د سیمینارونو له لارې وړاندې کوې، او ددې تر څنګ ورته لنډمهاله ظرفیت لوړونې برنامې جوړوي، په همدې توګه هغه محصلین چې فارغ شوي، د واټس اپ ګروپونو له لارې د مختلفو ادارو څخه استخدام اړوند اعلان شوو بستونو څخه خبروي، دوی سره د سي وي جوړونې، انټرویو او ایمیل کولو په برخه کې همکاري کوي.

## درېیمه ماده: محصلینو شخصیت او وقار ساتنې څخه ملاتړ

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه خپلو محصلینو ته په احترام او د هغوی وقار او شخصیت ته احترام باندې قایله ده، هر هغه څوک چې محصلینو ته احترام نه لري، ورته ستونزې ایجادوي، شخصیت وژنه یې کوي، مؤسسه د دا ډول اشخاصو مخالفه ده، او د دوی په وړاندې د مبارزې په اړه سخت دریځ لري.

په همدې موخه مؤسسې پلان او پالیسی کمېټې د مختلفو تعصبونو او سلیقوي برخوردونو څخه پاک او د یو اخلاقي چاپېریال د رامنځته کولو په منظور اخلاقي پآلیسي تدوین کړې، ددې ترڅګ که کوم محصل وغواړي چې د یو بل محصل څخه خپل شکایت په رسمي ډول ثبت کړي، نو د شکایاتو ته رسیدګی طرزالعمل هم شتون لري، او له مخې شکایت ثبت کولی شي.

که احیاناً داسې څوک پیدا شي چې بل محصل ته یې ستونزې ایجاد کړي، هغه ته یې آزار او اذیت کړی او بې احترامې یې کړې ده، د اړونده مو ضوعاتو د ښه روښانتیا په پار مؤسسې نظم و دسپلین کمېټه کې بحث کېږي، او د ارتکاب په صورت کې به متهم ته قانوني او داخلي پالیسیو په پام کې نیولو سره سزا ورکول کېږي، ترڅو د دا ډول کړنو څخه منع شي، او د متضرر شخص د شخصیت اعاده هم ترسره شي.

## څلورمه ماده: محصلینو ته عملي کار لپاره لابراتوارونو او مجهز روغتون

ددې په خاطر چې زمونږ محصلین خپلې زده کړې په ښه ډول ترسره کړي، د نظري تر څنګ مو ورته د عملي کار هم زمینه برابره کړې، چې په دغه برخه کې مؤسسې درې ګوونو پوهنځیو محصلینو لپاره په عصري وسایلو سمبال لابراتوارونه شتون لري، چې عملي ساعتونه عملاً ترسره کېږي، او ددې تر څنګ ستاژرانو او د لوړو سمسترونو محصلینو ته عملي کار لپاره مجهز تدریسي روغتون شتون لري.

## پنځمه ماده: محصلینو د ملاتړ په پار محصل نړیواله ورځ په شانداره مراسمو لمانځل

د محصل نړیواله ورځ، چې د اکتوبر له اولسمې ورځې سره برابره ده، هر کال مؤسسې درې گوونو پوهنځیو محصلینو په شتون کې لمانځل کېږي، چې د یادې ورځې مبارکۍ تر څنگ پکې تمثیلي پارچې هم جوړیږي، او محصلینو ته ډالۍ هم ورکول کېږي.

## شپږمه ماده: محصلینو ته د ضرورت وړ قانوني  اسنادو جوړول

هر هغه محصل چې قانوني اسنادو جوړلو لپاره وړاندیز وکړي، د قانوني طی مراحل کېدو وروسته په ورته په خپل وخت ورکول کېږي، چې برحاله محصلینو سربېره فارغ محصلینو ته هم په دغه برخه کې کار کېږي، او د هغوی د حقوقو ملاتړ کېږي، چې یادو اسنادو کې د NOC, Attempt certificate, Distinction Certificate, Recombination letter, English Proficiency letter یادولی شو.

د یادو اسنادو اخیستلو لپاره محصل مکلف دی چې ریاست مقام ته عریضه وکړي، عریضه یې ریاست مقام څخه محصلانو  چارو معاونیت ته احکام کېږي، او محصلانو چارو معاونیت یې کارموندنې او مشوره ورکوونې آمریت ته احکام کوي، همدارنگه یاد اسناد هغه وخت ورکول کېږي، چې کله محصل فارغ او فراغت اسناد له ځان سره ولري.

## اوومه ماده: بهرنیو محصلینو ته د ویزې لگولو په برخه کې اسانتیا په پار رسماً معرفي کول

هغه خارج مرز محصلین چې ویزو ټاکلی وخت یې پای ته رسېدلی وي، او غواړي چې بیا خپلې ویزې  تمدید کړي، نو دا چې محصلینو وخت ضایع نشي، نو دوی کولی شي مؤسسې څخه په دغه برخه کې همکارۍ غوښتنه وکړي، داخلي طی مراحل څخه وروسته محصل ته د ویزې تمدید کولو په مرجع د همکارۍ مکتوب ورکول کېږي، چې ددې لارې اړونده اداره محصل ته ویزه په کم وخت کې تمدید کوي، او محصل ستونزه په ژر ډول حل و فصل کېږي.

## اتمه ماده: څېړنو (ریسرچ) برخه کې محصلینو ملاتړ

ریسرچ او څېړنې چې په اوسني وخت کې ډېر مهم رول لري، خصوصاً طب په برخه کې، نو همدغه اهمیت او ضرورت ته په کتلو، سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې څېړنې مرکز او څېړنې امریت شتون لري، چې د پلان سره سم ورته د څېړنو اړوند ورکشاپونه دایروي، او ددې تر څنگ عملاً محصلین څېړنو په ترسره کولو بوخت دي او مختلفو څېړنیزو برخو کې مو ورته سهولتونه ایجاد کړي.

## نهمه ماده: ازمونیو د پایلو څخه د عدم قناعت پر وخت د شکایت کولو ملاتړ

مؤسسات او پوهنتونونه چې علمي او اکاډمیک مرکزونه دي، نو هڅه کېږي، چې دلته هر ډول بې انصافي، تبعیض او حق ضایع کېدو څخه مخنیوی وشي، همدارنګه سپین غر اداره په هره برخه او خصوصاً د ازموینو شفافیت په برخه کې ژمنه ده، ترڅو شفافې ازموینې واخیستل شي، او هر چاته خپل حق ورکول شي، احیاناً که چېرې یو څوک اخیستل شوو نمرو قناعت ونه لري، او پارچې تجدید نظر غوښتنه وکړي، اداره یې شکایت اوري، دغه برخه کې یې ملاتړ کوي او د رسمي پروسیچر له لارې ورته رسیدګي کېږي، او محصل ته خپل حق ورکول کېږي او د حق څخه یې ملاتړ کوي.

## لسمه ماده: ساحوي کړنو برخه کې اسانتیاوې رامنځته کول

برحاله او په ځانګړې توګه وروستیو محصلینو ته د ساحوي کړنو په هکله اسانتیاوې برابرول، داسې چې د یوه رسمي استاذ تر مشرۍ لاندې محصلینو ډلګي جوړېږي، چې د عملي کار لپاره به بېلابېلو ساحو ته ځي، او هلته به د استاذ د لارښوونې سره سم ساحوي کړنې ترسره کوي.

## یوولسمه ماده: بهرنیو غونډو کې ګډون حق

محصلینو ته ددې زمینه برابرول، ترڅو په نورو بهرنیو غونډو کې ګډون وکړي، په دې سره محصلین د وینا د مهارتونو سره اشنا کېږي، همدارنګه اړیکو او ارتباطاتو د ټینګښت په برخه کې هم ورسره همکاري کوي، چې محصلین به په اینده کې وکولی شي د یادو اړیکو څخه د دنده اییزفو فرصتونو او همدارنګه علمي برخه کې استفاده وکړي.

محصلینو د ملاتړ پالیسي مؤسسې علمي شورا په (۲۷ / ۳ / ۱۴۰۳) نېټه مجلس کې د رایو په اتفاق سره تائید او په ( ۳ ) ګڼه د پروتوکول کتاب کې ثبت دي.

د علمي شورا رئیس

د علمي شورا منشي